د افغانستان د اقتصادی او حقوقی مطالعاتو موسسه
موسسه مطالعات اقتصادی و حقوقی افغانستان
Afghanistan Economic & Legal Studies Organization

# JUMP - JOINING UP TO MINIMIZE POVERTY

گامهای مشترک برای مبارزه با فقر

له غربت سره د مبارزې لپاره ګډ ګامونه



## ولي‌الله رحماني

د هر ځوان لپاره ښه سبا

# ENTREPRENEURS FOR PROSPERITY IN AFGHANISTAN

کارآفرینان برای رفاه در افغانستان | په افغانستان کې د هوساینې لپاره متشبثین

# ولي‌الله رحماني

## د هر ځوان لپاره ښه سبا

افغان لایټ فرصت په افغانستان کې یو له دغو معتبرو تعلیمي، مشورتي او نړیوالو تحصیلي بورسونو د نوم لیکنې له شرکتونو څخه دی چې په ۲۰۱۸ کال کې د یوه فعاله ځوان افغان ولي الله رحماني له خوا په لاره اچول شوی او په دوه څانګو کابل او بلخ ولایتونو کې د خپلو مشتریانو لپاره کار او فعالیت کوي، دغه تعلیمي او مشورتي شرکت ١٦ تنه برحاله کارکوونکي لري چې په بېلابېلو څانګو کې د خدمتونو په وړاندې کولو او ترسره کولو بوخت دي.







نن ورځ، هغه شرکتونه چې د تعلیمي او مشورتي خدماتو په توګه فعالیت کوي د هیواد د مرکز او ولایتونو په کچه یې د ډېرو کلونو په اوږدو کې د پام وړ وده کړې، چې د پوهنتونونو ډېری محصلین او فارغین د نړۍ معتبرو پوهنتونونو ته د خپلې خوښې وړ برخو کې د لارې موندلو لپاره دې شرکتونو ته مراجعه کوي او دوی کولی شي د دې شرکتونو له خدماتو څخه د هغه ترون څخه کار واخلي چې دوی یې د نړۍ د معتبرو پوهنتونونو او تعلیمي موسسو سره لري او زده کوونکو ته د پوهنتونونو سره د مشورې او زمینې جوړولو له لارې په بېلابېلو اکاډمیکو کورسونو کې د زده کړو زمینه برابروي.

ښاغلی رحماني د قضأیي او څارنوالي چارو کارپوه او اوسمهال د نړۍ یو له معتبرو پوهنتونونو څخه د افغانستان په څانګه کې د نړیوالو اړیکو په برخه کې د ماسټرۍ محصل دی همدارنګه نوموړی په درېیو بېلابېلو پوهنتونونو کې هم تدریس کوي او د خپلې وینا پر بنا یې لس کاله د انګلیسي ژبې په څانګه کې تدریس کړی دی.



# ولي‌الله رحماني

## د هر ځوان لپاره ښه سبا





رحماني د ملي ژبو تر څنګ د نړۍ په درې ژوندیو ژبو خبرې کوي او پر دې سربېره یې خپله مورنۍ ژبې چې پشه یې ده هم یادونه کوي او د ماشومتوب یواځینۍ هیله یې داده چې کوچیني (لږکیو) پشه یې قوم ته ښوونیز خدمتونه وړاندې کړي.

رحماني په پروان ولایت کې د دوو ښوونځیو بنسټ ایښودونکی دی او د یوې ادارې لپاره یې د زده کوونکو د ظرفیت لوړولو په برخه کې کار او فعالیت کړی، نوموړي په 2014 کال کې د پروان ولایت لپاره د افغانستان د روڼتیا د څار مسؤلیت په غاړه درلوده او ځان یې د یو منندوی خو نه قانع کوونکي شخص په توګه توصیفوي چې هیڅکله یې د بریالیتوب او نوي تجربو ترلاسه کولو لپاره هڅه نه ده دریغ کړي.

د افغان لایت فرصت تعلیمي او مشورتي خدماتو شرکت د ځوانانو او محصلینو لپاره په وړیا توګه د مشورې ورکولو په څانګه کې کار او فعالیت کوي، او ښاغلی رحماني یادونه کوي چې د پرله پسې هڅو موخه یې یوازې د افغانستان د ځوانانو او د نوي نسل هڅول او هیلې ورکول دي. هغه د مهاجرت د دورې د سختیو او د ژوند د کړاوونو په اړه وایي چې دا ټول د ده لپاره یوه تجربه او د پرله پسې هڅو یادونه ده.

ځوانان د یو هیواد د اساسي ستنې په توګه باید د ژوند په ټولو برخو کې انګیزه او هیلې ولري، څو وکولای شي د هیواد او ټولنې په ښه والي کې خپل فعال رول ولوبوي، هغه د ځوانانو لپاره د سوداګرۍ پیل کولو لپاره ځینې مهم ټکي بیانوي: د پیل کولو دمخه د سوداګرۍ پای ته پام وکړئ، د سوداګرۍ پیل کولو دمخه خپلې ټولې ځیرنې ترسره کړئ، د یوه قوي او هوډ لرونکي ټیم جوړول چې ټول یو واحد نظر لرونکي وي، په خپله سوداګرۍ کې خلاقیت مصرف کړئ او په پای کې د داسې کار بنسټ ایښودونکی شئ چې تاسو یې بشپړ کنټرول ولرئ.





هیڅ کار او سوداګرۍ د خپلو ستونزو او ننګونو خالي نه وي، په ځانګړې توګه کله چې تاسو نوی په فعالیت پیل کوئ او ښاغلی رحماني یادونه کوي، "تر ټولو لویه ننګونه په ټیم (ډله) کې ویشل دي، چې د سوداګرۍ له منځه وړلو لامل کیږي." همدا راز نوموړي د امنیت او اقتصاد په برخه کې د نننۍ ټولنې ننګونو ته په اشارې وویل، چې په ډېرو مواردو کې د ټولنې په کچه د خلکو د کمزوري اقتصاد او د امنیت د نشتوالي له امله ډېرې ورې او لویې سوداګرۍ له ناکامۍ سره مخ کېږي.

د ښوونیز او مشورتي ډګر د برابرولو په برخه کې د ښاغلي رحماني د کار او فعالیتونو ارزونه مثبته ده، ځکه چې دا کار د متشبثینو او محصلینو لپاره بې شمېره اسانتیاوې رامنځته کړې دي. همدارنګه، د اړیکو، زړورتیا، نورو معلوماتو او د بدن ژبې په څېر مهارتونو سره، هغه توانیدلی چې په مختلفو برخو کې د کارمندانو ترمنځ الګو او سرلاری شي.

د نوموړي په اند، د هېواد راتلونکی په دې ډول دی: «په هغه حالت او ځای کې چې موږ قرار لرو که مو ونشو کړلی چې د خپل ځان لپاره یې جنت جوړ نه کړو، د نړۍ هر ځای ته چې لاړ شو د ځمکې پر سر به دوزخ وي» د هیواد راتلونکی زموږ په اوسنیو کارونو پورې اړه لري او که دا ډول ښه مخته نه وي روان نو بدې پایله به ولري، مګر موږ کولی شو د خپلو انفرادي مسؤلیتونو په پوره کولو او د لوړې پوهې په درلودلو سره د ځمکې پر مخ د ځان لپاره جنت جوړ کړو او په پای کې زما یوازینۍ هیله دا ده چې ټول ځوانان د ژوند په ټولو برخو کې خپلو لوړو موخو ته ورسېږي، ځکه همدا ځوانان دي چې د افغانستان د خوښۍ دروازې به ګرځي.



# ولي‌الله رحماني

د هر ځوان لپاره ښه سبا
















